# ښکلې هوسۍ



لیکوال: داکتر معمار حشمت الله اتمر

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لیکي پوهه:

**سرلیک:** ښکلې هوسۍ

**لیکوال:** ډاکټر معمار حشمت الله ,, اتمر ،،

**اېډېټور:**

**د پښتنۍ ډیزان:** ډاکټر معمار حشمت الله ,, اتمر ،،

**خپرندوی:**

**چاپشمېر:** ۳۰

**چاپ نېټه:** میاشت – غویی / کال ۱۴۰۶

**واټس اپ:** ‎+۹۳۷۹۹۳۷٦۹۹۸

**برېښنالیک:**

atmar_hashmatullah@yahoo.com

د چاپ حقوق له لیکوال او خپرندوی سره خوندي دي، بې اخځ ښوونې ترې د ګټې اخیستنې اجازه نه شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لړلیک

**سرلیک** **چوپړی**

پېژندنه (پخښتی)...................................................... ۱
بسم الله الرحمن الرحیم ............................................. ۲
لیکي پوهه:............................................................ ۳
لړلیک ................................................................. ٤
تراڼ (پیل، شروع، برید)............................................. ٥
د یادښتونو له پاره:................................................... ۷
کیسه یا داستان: ..................................................... ۸
د چاپ شویو کتابونو لېست............................................ ۷٤
د کار لاندې کتابونو لېست .......................................... ۷۹
د امکان او وخت په صورت کې........................................ ۸۰
د پخښتی ځت ........................................................ ۸۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکلي هوسۍ

..................................

## تراڼ (پيل، شروع، بريد)

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمنِ الرَّحِيمِ، الْحَمْدُ لِلَّهِ إجْلَالًا لِقُدْرَتِهِ، وَ لَا إلَهَ إلّاَ اللَّهُ خُضُوعاً لِعِزَّتِهِ، وَصَلَّى اللَّهُ عَلَى مُحَمَّدٍوَآلِه .

بې پايه ستاينه او بې حده مننه، د هغه سپېڅلي ذات نه چې د وجود مانۍ او کاينات يې د انساني وجود د تکامل او د انسان له پاره د خپل سپېڅلي ذات او عبادت د حقيقت له پېژندلو پرته جوړ کړل. هغه د ذات پوهه، عالي، لوړ او ښکلي نومونه دي، او کائناتو د پيداښت يوه حتمي لامل دی. عظمت، د ټولې نړۍ موجوديت، د ناڅاپه څخه راوتل، حق د رسيدو جوهر په يوه والي کې د اعتراف، تباهۍ او بې وسۍ يوه له لوړو وسيلو څخه دی.

**ګرانو لوستونکو!**
دا ځل مې و غوښتل د کوشنيانو(کوچنيانو)، تنکيو ځوا نانو له پاره ښکلی داستان (کيسه) وليکم او د خپلو کتابونو مينه والو او لوستونکو سره يې ګډ (شريکه) کړم.

زما د کتابونو مينه وال يوازې معماران او انجينران نه دي، نه بايد اوسي، نوځکه غواړم ورځ په ورځ د خپلو ليکونو کې توپير راوړم چې د هرې ښانګې مينه وال په کې ډېر شي، دا کار به ما دېته اړ کړې چې ليکنې مې توپير و لري او هم به مې مينه وال ډېر شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکلې هوسۍ
.................................

**پاکه ربه!**
زموږ له پاره خپله لاره بې ستونزې کړه، تر څو موږ له تا پرته بل څوک و نه وینو او نه يې پېژنو. زموږ سره مرسته و کړه تر څو مو په وجود کې د غرور نخښه پاتې نه شي او د اسلام د دين له سپيڅلو بنده ګانو څخه مو و بولې.

**يادونه:**

- د نظر تولو خاوندانو او هغه څوک چې دا کتاب لولي په ډېر درنښت هېله کيږي چې، خپلې غوښتنې او وړانديزونه د دې کتاب د بيا کتنې له پاره، زما سره ګډ (شريکه) کړئ.

Whatsapp: ۰۰۹۳۷۹۹۳۷۶۹۹۸

په درنښت
ډاکټر معمار حشمت الله اتمر

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکلي هوسۍ

...................................

**د یادښتونو له پاره:**

۱- ...............................................................................

۲- ...............................................................................

۳- ...............................................................................

۴- ...............................................................................

۵- ...............................................................................

۶- ..............................................................................

۷- ..............................................................................

۸- ..............................................................................

۹- ..............................................................................

۱۰- ............................................................................

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکلې هوسۍ

...................................

**کیسه یا داستان:**

په پخوا پير (وختونو) کي زمونږ په هېواد شمال ختيځو ولايتونو کې هوسيو ژوند کاوه او ډېرى خلک د هغو ليدو او ځينى نور هم د هغو ښکلو ښکار کاوه.

هغوى ډول ډول وو.

ځينې يې ګلداره (خالخالي) او ځينې نور يې ساده او بې خالې وې.

په هغو کې ډېرې لړې يې سپينې هم په سترګو کېدې.

سپينې هوسۍ تر نورو په قد يا لوړوالي کې غښتلې، اوچته (لوړې) وې.

د سپينو هوسيو ستروګو رنګونه هم د نورو سره توپير درلود.

د هغوى سترګې شنې او ښکلې وې.

خو د سپينو هوسيو شميره (تعداد) د نورو پرتله ډېر لږ او کله به د هوسيو په رمو کې، تر سترګو کېدل.

هغوى ټول مينه ناک وو.

يوه ځاى به ګرځېدل او څرېدل.

هيڅ وخت يې يوه د بل سره شخړې نه کوې او تل به لکه خويندو سره ګډ ژوند کاوه.

يوه به د بل سره د ستونزو په وخت کې مرستې هم کوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بنکلي هوسۍ

..................................



(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکلې هوسۍ

...................................

ګل خان یوه پوخ ښکاري و.

هغه تل د مرغیو او سویانو ښکار، کاوه.

یوه ورځ چې په ځنګله کې ښکار پسې ګرځېد، یوه ښکلې او ټکې لرونکې (خال خالي) هوسې يې د مخې نه په ډېره چټکتیا سره، تېره شوه.

هغه کوښښ وکړ چې پر هغې ډز وکړي.

خو هغه د یوې سترګې په رپ سره، تېره شوه.

ګل خان د هغې پسې اخوا دېوا وګرځېد او سوچ يې کاوه چې هغه به و مومي او ښکار به يې کړي، مګر هغه و نه توانېد.



(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکلې هوسۍ

...................................

ګل خان به سهار وختي د کور نه و وت او هوسۍ به يې په ځنګله کې لټوه.

مياشت تېره شوه او هغه و نتوانېد هوسې بيا و وينی.

د هغه له پاره ځنګله ته، تګ راتګ ستونزمن شو.

اوا(هوا) مخ په سړېدو شوه.

د ژمي ساړه بادونه  پيل شوو.

هغه به تودې او وړينې جامې اغوستې او بيا به په ځنګله کې ګرځېده.

د ژمې ساړه پيل شوو، واوره په ورېدو شوه.

په ځنګلو کې ښکار په ټپه ودرېد.

مرغان او ژوي به په ندرت سره له کورونو وتل.

ګل خان ډېر خپه شو.

څه يې د لاسه هم نه راتلل.

يوه ورځ چې هغه ډېر خپه او په سوچ کې ډوب و، ملګری يې چې خان ګل نوميده، هغه پوښتنې ته لاړ.

هغوی يوه د بل سره روغبړ وکړ.

بيا د ژوند ترخې او خوږې پېل شوې.

ګل خان هغه ته د هوسۍ کيسه وکړه.

او هغه ته يې و ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکلې هوسۍ

..................................

څو میاشتې د هغې د ویښتو په هکله به، هره ورځ ځنګلونو کې ګرځېدم.

هغه ښکلې هوسۍ مې ونه لیده.

بیا یې و ویل:

زه کوښښ کوم چې هغه و ولم او یا یې ژوندۍ و نیسم.

ملګري یې و ویل:

دا به ډېره ستونزمنه وي چې هغه بیا و وینې.

هغوی تل په یوه ځای کې نه اوسي.

هغوی لکه کوچینانو، ژوند کوي.

پسرلي کې په یوه ځای، دوبې کې په بل ځای کې وي.

ګل خان و ویل:

ماته یوه سوچ راغی، هغه دا چې:

که زه په ځنګله کې یوه جونګړه جوړه کړم او الته ژوند وکړم، کېدای شي هغه بیا وګورم.

ملګری یې و ویل:

ښه سوچ دی، مګر په ځنګله کې هر راز ژوي وي، کېدای شي تا له منځه یوسي.

ګل خان و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه ټوپک لرم.

البته به خپل کوکری(د سپي بچی) او پیشو هم له ځانه سره یوسم.

هغوی به زما سره مرسته وکړی.

خان ګل و ویل:

ستا خوښه!

زما یواځې ویل و.

ځو دکیکې لا نه وې تېرې شوې چې د ګل خان ښځې چای راوړ.

بیا ګل خان په پیالو کې چای واچوه او دواړو په مزه، مزه چای و ځښل.

غرمه شوه.

خان ګل له ځایه پاڅید او ګل خان ته یې و ویل:

که اجازه وي اوس خپل کور ته ځم.

ګل خان ورو ته و ویل:

چېرې ځې؟

غرمه ده.

د غرمې ډودۍ وخوره، بیا به دواړه لمانځه ته لاړ شوو.

لمانځه نه وروسته به ته خپل کور ته لاړ شې او ځه به بېرته راوګرځم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملګري يې و ويل:

مننه کوم.

ما په کور کې څه نه دي ويلي.

هغوی به ما پسې دېخوا او اخوا سرګردانه شي.

بيا به بل وخت، راشم او د ستا سره به شپه هم وکړم.

ګل خان و ويل:

سمه ده!

بيا د خپل ملګری سره تر دروازې و وت.

ملګری يې خپلې مخې پسې لاړ.

ګل خان بېرته، کورته ستون شو.

څو ورځې تېرې شوې.

هغه د خپلې پريکړې خبره د خپلې ښځې سره ګډه (شريکه) کړه.

هغې هم د هغه د ملګري خبره تکرار کړه.

هغه و ويل:

ته هم سمه او رېښتيا وايې.

خو زه هرو مرو په ځنګله کې يوه جونګړه، جوړوم.

ښځې يې و ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکلې هوسۍ

..................................

ستا خوښه!

مګر زه خوشحاله نه یم.

څو ورځې تېرې شوې.

ګل خان څه ضروري مواد ورته په پور واخیستل.

بیا یې خپل ملګرې و غوښت.

هغوی دواړو په ځنګله کې یوه جونګړه، جوړه کړه.

جونګړه د لرګو څخه وه.

پر سر یې هم د ونوڅانګې، لښتې او پاڼې واچوې.



(c) ketabton.com: The Digital Library

بنکلې هوسۍ

.................................

بیا ګل خان خپل ملګري سره پېرته، ستانه شوو.

خان ګل خپل کور او ګل خان خپل کور ته لاړل.

خان ګل د کور جوړېدو پای خبره د خپلې ښځې سره شریکه کړه.

هغې ګل خان ته مبارکي و ویله.

هغوی دواړه ډېر خوشحاله شوو.

د بارانونو موسم وه.

ګل خان خپلې ښځې ته و ویل:

څه موده به نور هم صبر وکړو تر څو بارانونه لږ بیا به خپله کډه بار او الته ولېږدوو.

هغې و ویل:

سمه ده!

څو ورځې تېرې شوې.

بارانونه لږ شوو.

ګل خان خپل ملګری راو غوښت.

هغوي کالی ټول او غوټې یې وتړې.

ګل خان له ځانه سره درې خرې هم راوستې وې.

ګل خان شپه د خپل ملګري سره وکړه.

سهار وختي له خوبه پاڅېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لمړی یې اودسونه او بیا یې د سهار لمځونه وکړل.

د خان ګل ښځې سهار چای تیار کړ.

خان ګل او د هغه ملګری بارونه په خرو وتړل.

چای یې و څښل.

بیا ځنګله ته روان شوو.

لارې ټولې کږې وږې او لمدې وې.

غرمې وخت کې، هغوی جونګړې ته ورسېدل.

بارونه یې له خرو کوز(کښته) کړل.

هرې خوا ښنه واښه وو.

خرونه په څرېدوشو.

هغوی هم کالی جونګړې ته، د ننه کړل.

خان ګل خپل ملګری سره د شاو خوا ونو ننداره پیل کړه.

ښځې یې هم پر پخلي پیل کړ.

لږ ځنډ وروسته ګل خان خپل ملګری ته و ویل:

زه بېرته، کلي ته ځم.

تاسو ته ښه ژوند غواړم.

ملګري یې مننه وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکلې هوسۍ

..................................

ګل خان خره مخکې او کلی خوا روان شو.

خان ګل هم پیشو له کځوړي و ویسته او جونګړې کې یې خوشې کړه.

بیا یې د چرګانو پښې خلاصې او د جونګړې مخې ته یې خوشې کړل.

چرګان هم د واښو او ځنګله په دانو خوړو پیل کړ.

ډوډۍ تیاره شوه.

هغوی په خوند سره ډوډۍ وخوړه.

ډوډۍ خوړو نه وروسته، ګل خان د چرګانو له پاره هم کوشنۍ جونګړه جوړه کړه.

بیا اخوا دېخواوو نه یې، وچ لرګي راټول کړل او د جونګړې خوا یې واچول.

اوا(هوا) تیاره شوه.

ماښام شو.

ګل خان خپلې چرګې او چرګان په کوشنۍ جونګړې کې بند کړل.

پیشو هم د باندې وه او میاومیاو یې کاوه.

هرې خوا ورته نوې وه.

بیا جونګړې ته د ننه شوه او نغري خوا ته، کښېناسته.

ګل خان او ښخه یې هم جونګړې ته، د ننه شوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بنکلې هوسۍ

..................................

دروازه يې وتړه.

بنځې يې تېلي څراغ روښانه کړ.

بيا په نغري کې يې د غرمې پاتې کتغ تود او وروسته يې چايجوش پر سکروټو کېښود.

هغوی ډوډۍ وخوړه او ورسته يې تريخ چاي پسې هم وڅښل.

لږه ډوډۍ يې پيشو ته هم واچوه.

څه څنډ وروسته بيده شوو.

سهار شو.

نوی ژوند پيل شو.

ګل خان به سهار وختی په ځنګله کې ګرځېده او ښځه به يې د کور په کارونو اخته وه.

څو ورځې تېرې شوې.

د ګل خان ښځې يوه لويه تکرۍ و وبده(جوړه کړه).

هغه يې د جونګړی ته نږدې لمر ته کېښوده، تر څو وچه شي.

څو ورځې نورې هم تېرې شوې.

ګل خان به د هوسۍ خوبونه ليدل.

يوه ورځ سهار وختی چې ګل خان غوښتل ښکار ته لاړ شي، پر تکرۍ يې سترګې و لګېدې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکلې هوسۍ

...................................

په ټکرۍ کې څه ښکارېدل.

هغه سترګې و مښې او بیا یې ټکرۍ ته و کتل.



(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکلې هوسۍ

...................................

په ټکرۍ کې یوه هوسۍ دوې سپین سویان او څو د سویانو بچیان هم ښکارېدل.

ژر یې ټوپک مخه د هوسۍ خوا و نیوه.

د هغوي پرې پام او هر ژوي، هرې خوا منډې کړې.

ګل خان پرې دز و نه کړ، که نه کولای یې شو چې هوسۍ او یا سویان و ولي.

هغه له ځانه سره و ویل:

کېدای شي هغوی هره شپه په تکري کې تېره او بلد شي.

ګل خان په سوچو، سوچونو کې وړاندې لاړ.

اخوا دېخوا یې و کتل.

په ونو کې مرغانو سندرې ویلې.

هغوی ښکلي غږونه (آوازونه) درلودل.

بیا لږ نور هم وړاندې لاړ.

مخې ته یې څو خړې مرغۍ پر ځمکه ولیدې.

پر هغو یې ډز وکړ.

لس یې په کې و ویشتې.

په منډه ویشتل شویو مر غیو ته یې ځان ورساوه.

ټوپک یې پر ځمکه کېښود.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بنکلې هوسۍ
...................................

ژر یې چاکو(چاقو) له جبه راوویست او د مرغیو په حلالولو یې پیل کړ.

ټولې ویشتل شوې مرغۍ یې، حلالې کړې.

بیا یې د جب نه کڅوړه و وېسته او حلالې کړې مرغۍ یې په کې واچوې.

بیا یې خپل چاکو په شنو واښو پاک، چاکو یې کات او بیا یې جب ته د ننه کړ.

ټوپک یې پر اوږه کړ او خپلې جونګړې خوا روان شو.

جونګړې ته ورسېد.

ښځه یې پر جاړو اخته وه.

پیشو او چرګې د جونګړې خوا، ګر ځېدل.

ګل خان خپلې ښځې ته و ویل:

دا مرغۍ واخله او غرمې ته ترې کلولې (کوفته) جوړه او پخه کړه چې په خوند یې وخورو.

ښځې یې و ویل:

سمه ده!

هغې مرغې واخیستې او پر پاکولو یې پیل کړ.

ګل خان هم اوبو پسې لاړ او څو منګې اوبه یې راوړې.

ښځې یې هم مرغۍ پاکې او پر پخلي یې پیل کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بنګلې هوسۍ

..................................

غرمې ډوډۍ تياره شوه.

هغوی په خوند سره ډوډۍ وخوړه.

ورځ تېره شوه او ماښام شو.

پاتې کلولي يې د شپې تاوده او ويې خوړل.

بيا ويده شوو.

سهار شو.

ګل خان بيا د نورو ورځو په شان وختي له خوبه پاڅېد، د لمانځه نه وروسته يې چای و ځښل او د جونګړې نه د باندې شو.

بيا يې سترګې په ټکرۍ ولګېدې.

ګوري چې بيا په ټکرۍ کې هوسۍ او سويان ښکاري.

ګل خان ورو، ورو خپل ځان يوې ونې ته ورساوه او ځان يې د هغې ډډ ته پټ کړ.

بيا يې د هغو په ننداره پيل کړ.

پوره يوه ګړۍ يې د هغوی ننداره وکړه.

هوسۍ د سويانو سره مينه درلوده.

کله به يې د ټکرۍ نه ټوپ او پر ځمکه به يې ټوپونه وهل او بيا به بېرته ټکرۍ ته راتلل او کېناستل.

ګل خان وروسته د يوې ګړۍ ورو، ورو د ونې شا نه (ځټ نه) لرې او خپل ښکار پسې لاړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکلې هوسۍ

..................................

هغه بیا څه مرغۍ و ویشتې او کور ته یې راوړې.

هغه د سویانو او هوسیو ښکار بند کړ.

ګل خان د دوېیو ورځو سهارنۍ کیسه خپلې ښځې ته بیان کړه.

هغه خوشحاله شوه او ګل خان ته یې و ویل:

ماته یوه چل راپه یاد شو.

ګل خان و ویل:

څه چل؟

ښځې یې و ویل:

چل داسې دی.

ته هر ماښام ټوکرۍ لږ، لږ جونګړې ته نږدې کوه، و به ګورو چې هغوی هم په ټوکرۍ په سې راځي او که نه.

ګل خان و ویل:

داخو ښه چل دی.

هغه ماښام د جونګړې نه د باندې شو او ټوکر یې څو متره جونګړې ته نږدې کړه او خپله بېرته جونګړې ته ننوت.

سهار و ختي بیا له جونګړې و وت او ټوکرۍ ته یې و کتل، ګوري چې هوسۍ او سویان په ټوکرۍ کې بیده دي.

ګل خان لږ ټکرۍ ته ور نږدې شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بنکلې هوسۍ

....................................

هوسې له خوبه ویښه شوه او غوښتل یې چې سویان هم له خوبه پاڅوي.

ګل خان پوی شو چې هوسۍ غواړي سویان را ویښ او له ځایه وتښتي.

په دې وخت کې هغه ببرته شا (څټ) ته شو او خپله لاره یې چپه کړه.

ځنګله منځ ته لاړ او څه مرغان ې ښکار او کورته یې راوړل.

ښځې یې د نورو ورځو په شان کټوه (دېګی) باندي او ښوروا یې پخه کړه.

بیا هغوی ښوروا وخوړه او په کیسو یې پیل کړ.

ښځې یې و پوښتل:

نن سهار څه کیسه شوې وه؟

هوسۍ او سویان په ټکرۍ کې ول؟

ګل خان و ویل:

هو!

د نورو ورځو په شان هغوی په ټکرۍ کې بیده وو.

زه لږ ور نږدې شوم مګر هوسې له خوبه پاڅېده او غوښتل یې چې سویان هم له خوبه پاڅوي، زه پوی شوم چې هغوی غواړي له ټکرۍ نه وتښتي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکلې هوسۍ

..................................

خو زه بېرته په شا (ځټ) شوم او هغوی مې الته ارامه پرېښودل.

ښځې یې و ویل:

ډېر ښه کار دې وکړ.

ورو، ورو هغوی به زمونږ سره بلد شي.

ګل خان و ویل:

خدای وکړي.

په کیسو، کیسو کې ماښام شو.

بیا ښځې یې و ویل:

اوس لاړ شه او ټکرۍ د چرګانو جونګړې خواته کېږده بیا سهار وګوره چې څه کیسه ده.

هغه له جونګړې و وت او ټکرۍ یې د چرګانو جونګړې خوا ته کېښوده.

بیا بېرته جونګړې ته ننوت او دروازه یې وتړه.

سهار بیا له خوبه پاڅېد.

دروازه یې په کراره خلاصه کړه.

ټکرۍ خوا ته یې و کتل.

هوسۍ او سویان د نورو ورځو په شان په ټکرۍ کې بیده وو.

ګل خان ورو، ورو خپله لار، چپه کړه او ښکار پسې لاړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکلې هوسۍ

.................................

میاشت تېره شوه.

هوسۍ او سویان د ګل خان، ګل خان ښځې، پیشو او چرګو سره بلد شوو.

هغوی به یوه د بل سره مستۍ او کله به په ټکرۍ کې سره یوه ځای کېناستل او بیده کېدل.

څه موده وروسته یوه غرڅه هم د ګل خان جونګړۍ ته راغی او الته د د ټولو سره بلد شو.

په لمړۍ ورځ به ډېر بېرېده چه ګل خان ورته زیان (نقصان) ونه رسوی، بیا وروسته له څو ورځو پوی شو چې هغه بې ضرره او د ژویو سره مینه لري.

غرڅه هم کله نا کله به یې د چرګانو او پیشو سره لوبې کوې.

کله به د پیشو او چرګانو سره د جونګړې نه لرې تلل او الته به ګرځېدل، په کوشنۍ بیالې کې به ګډېدل.

اوبه به یې څښلې.

کله به یوه په بل باندې اوبه پاشلې.

هغوی ډېر خوښ او د خوښۍ نه ډک ژوند پیل کړ.

داسې ښکارېدل چې یوه د بل په خبرو پوهېږي.

ګل خان او د هغه ښځه هم ډېر خوشحاله شوو چې د غرڅه، هوسۍ او سویانو څېښتنان شوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بنکلې هوسۍ

....................................

اوس هغوی یوه پیشو، دوې چرگانې، یوه غرڅه، هوسۍ او څلور سپین سویان لري.

وختونه تېر شوو.

منی شو.

گل خان د غرڅه، هوسۍ او سویانو ژمې له پاره وابنه راټولول او جونگړې ته نږدې یې خرۍ کول، تر څو په ژمي کې هوسۍ او سویان پرې ماړه کړي.

بیا یې وغوښتل چې غرڅه او هوسۍ له پاره کوشنۍ جونگړه جوړه کړي ترڅو په ژمي کي د هغوی ساړه و نه شي.

هغه څو ورځې په ځنگله کې و نو څانگې او لښتې پرېکې کړې او یوه جونگړه یې د غرڅه، هوسۍ او سویانو له پاره جوړه کړه.

په لمړۍ ورځ هوسۍ جونگړې ته، نه د ننه کېده او ډارېده چې په کې کوم چل نه وي.
هغې له پیشو وغوښتل چې جونگړې ته د ننه شي او وگوري چې په کې کوم چل نه وي.
پیشو، هوسۍ ته و ویل:
ته مه وېرېږه.

زه شپږ کاله د مخې له گل خان سره آشنا شوم.

هغه ښه سړی او مهربانه دی.

هیڅوک د هغه نه ترخه یادونه نه لري.

زه به لمړی الته د ننه شم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکلې هوسۍ

...................................



(c) ketabton.com: The Digital Library



هوسۍ و ویل:

مننه کوم.

راځه لمړي زما کور ته لاړه شه او وګوره چې زما کور ښکلی دی او دا کور؟

پیشو ومنه او د هوسۍ سره د هغې کورخوا ته روانه شوه.

په خبرو اترو لاره لنډه شوه.

هغوی د هوسۍ کور ته ورسېدل.

بیا هوسۍ و ویل:

دا سوری وینې؟

پیشو و ویل:

هو!

دا زما کور دی.

پیشو و ویل:

کور د پاسه ګلان هم ښکاري.

ګلان تا کرلي؟

هوسۍ په خندا شوه او ویې ویل:

نه!

په خپله شنه شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکلې هوسۍ

...................................



پیشو و ویل:

کولای شم ستا کور کې د ننه وګرځم؟

هوسۍ و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

بنکلې هوسۍ

....................................

هو!

کولای شې.

پیشو کور ته، د ننه او هوسۍ د باندې څارنه کوه.

 څو دکیکي وروسته پیشو د باندې شوه او و یې ویل:

ستا کور ډېر تیاره او راز، رازحشرات لکه:

ماران، لړمان، غونډل، سمسارې او نور حشرات په کې لیدل کیږي کوم چې کولای شی تا و چچي او له منځه یوسي.

بله مهمه خبره دا ده چې ستا کور ډېر نم لري.

کېدای شي تا ته زیان و رسوی.

بیا هغوی بېرته راروان شوو.

په لاره کې یې پیشو ته و ویل:

مننه کوم.

ته ډېره مهربانه یې.

زمونږ دوستی به تل وي.

په لاره کې د یوې کوشنۍ هوسۍ سره مخ شوو چې مور یې پړانګ خوړې وه او هغه یوازې پاتې شوې وه.

هغه هوسی ته نږدې او هغې ته یې و ویل:

زه کولای شم ستاسو سره ژوند وکړم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکلې هوسۍ

.................................

هوسۍ و ويل:

سمه ده!

کومه ستونزه نه شته.

پيشو و ويل:

ته به له مونږ سره لاړه شې.

هغې و پوښتل؟

ستاسو کور چېرته دی؟

پيشو و ويل:

زمونږ کور په ځنګله کې دی.

مونږ د ګل خان سره ګډ ژوند کوو.

بيا کوشنۍ هوسې و پوښتل:

ګل خان څوک دی؟
بيا پيشو ورته ټوله کيسه بيان کړه.
کوشنۍ هوسۍ ډېره خوشحاله شوه.
بيا يې د لويې هوسۍ، پيشو نه مننه وکړه او درېواړه د هوسۍ نوي کور خوا ته، روان شوو.
هغوی هوسۍ نوی کور ته ورسېدل او لمړی پيشو خونې ته د ننه شوه او ويې ويل:
راځئ!
ښکلی کور دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکلې هوسۍ

...................................



(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکلې هوسۍ

..................................

څه موده تېره شوه.

ګل خان خپلې ښځې سره کلي ته لاړ.

د چرګانو او سويانو ساتنه د پيشو تر غاړې شوه.

هغوی څو شپې او ورځې الته تېرې کړې.

بيا بېرته خپلې جونګړې ته، ستانه شوو.

هغوی له ځانه سره اوړه، وريجې، غوړي، لوبيا، نخود، چای ، بوره ، صابون، اور لګيد او نور د کور ضروري شيان يې له ښاره اخيستي او خپلې جونګړې ته يې راوړل.

ګل خان د چرګو، سويانو او هوسيو په ليدو سره ډېر خوشحاله شو.

څو ورځې تېرې شوی.

کوشنۍ هوسۍ هم بلده شوه.

هغه به هم د ورځې د بلي لويې هوسۍ، پيشو او سويانو سره ګرځېده او د شپې به بېرته ،کور ته راتلل.

مياشت تېره شوه.

کوشنۍ هوسۍ ترۍ تمه شوه.

ټول د هغې په لټون کې شوو.

هغې د کور لاره ورکه کړې وه.

هرې خوا به يې کتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بنکلي هوسۍ

.................................



(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکلې هوسۍ

...................................

هغه به د ورځې په ځنګله کې ګرځېده.

د شپې به له ډاره د ځنګله نه د باندې ویدېده تر څو کوم ځناور یې و نه خوري.

څو ورځې تېرې شوې.

نه ګل خان وتوانېد چې هغه و مومي او نه هوسۍ د خپل کور لاره.

هغه ډېره خواشینې وه.

څو ورځې نورې هم تېرې کړې.

یوه ورځ هغه په ځنګله کې ګرځېده چې د یوه ښکاري ورته پام شو.

د ښکاري سره بادې ټوپک و.

هغه ورو، ورو د ونې شا (څټ) ته پټ شو.

هوسۍ ګرځېده او ښکاري یې نه و لیدلی.

هغه لرې وه.

ښکاري سوچ کاوه چې په یوه ټک به هوسۍ و ولي او بیا به یې حلاله

او کورته به یې وېسي.

بیا یې په ټوپک کې ساچمه کېښوده او پر هوسۍ یې ډز وکړ.

هغه یې په وچولي کې و ویشته.

بیا یې د هوسۍ پسې منډې کړې.

هغه لږه ژوبله او له سیمې وتښتېده، بیا په یوې دښتې کې دمه شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بنکلې هوسۍ

................................



(c) ketabton.com: The Digital Library

بنکلې هوسۍ

.................................

څو ورځې تېرې شوې.

د هغې د اوچلي درد ډېر شو.

څوک هم نه وه چې د هغې سره، مرسته وکړي.

ګل خان، لویه هوسې، سویان او پیشو به د هغې پسې سرګردانه ګرځېدل.

مګر د هغې نه کوم څرک نه لګېده.

پیشو به په ونو کې خته او د اوچتو څانګو نه به یې هرې خوا کتل.

څو ورځې نورې هم تېرې شوې.

یوه ورځ پیشو ونې ته وخته او په لیدو یې پیل کړ.

اخوا دېخوا یې وکتل.

نا ببره یې پام کوشنۍ هوسۍ ته شو.

بیا یې چیغه کړه.

هغه ده!

پیدا شوه.

ټولو منډې کړې.

هغه په چټکۍ سره، بېرته راکښته شوه.

پیشو مخکې نور ورپسې او ټول هغې ته نږدې شوو.

په خوشحالۍ سره هغې سره یې روغبړ وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بنکلي هوسۍ

.................................



(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه هم ډېره خوشحاله شوه.

بیا لويې هوسۍ و ويل:

راځه چې کور ته ځو!

هغې و ويل:

درېدی نه شم.

سر مې ګرځېږي .

لويې هوسې و ويل:

ته ودرېږه.

هغه ودرېده.

لويې هوسۍ ورته و ويل:

ودرېږه او لږ پاڼې وخوره.

هغه ودرېده او ويې ويل:

خوله مې نه رسېږي.

پیشو و ويل:

دا ده زه ونې ته خېژم او څانګه تا ته، ټيټه وم.

هغه ونې ته وختله او څانګه يې ټيټه کړه.

کوشنۍ هوسې هم د ونې په پاڼو خوړو پیل کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکلې هوسۍ

...................................



هغې په مزه مزه پاڼې وخوړې او ویې ویل:
اوس مې په ښنو کې دمه پیدا شوه، کولای شم د تاسو سره کورته، لاړه شم، بیا هغه کورته لاړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکلې هوسۍ

..................................



(c) ketabton.com: The Digital Library

## ښکلې هوسۍ

...................................

بیا لویې هوسۍ و پوښتل:
وچولی دې ولې زخمي دی؟
هغې ورته ټوله کیسه بیان کړه، بیا لویې هوسۍ و ویل:
راځه چې د ځنګله منځ ته لاړ شو او الته درته څه بوټي او ګلان
ښیم، هغه وخوره ته به جوړه شې.
هغې ومنه او دواړه لاړل.



(c) ketabton.com: The Digital Library

بنکلي هوسۍ

..................................



(c) ketabton.com: The Digital Library



...................................

څو ورځې تېرې شوې.

هغه ښه نه شوه.

د ګل خان هغې ته پام شو او هوسۍ ته يې و ويل:

اوچلی دې نه دی ښه شوی؟

هغې و ويل :

نه!

تر اوسه نه دی ښه شوی.

بيا ګل خان د حيوانی کلينيک په لټه شو.

کلينيک ځنګله ته، نږدې وه.

ګل خان حيوانی کلينيک ته لاړ او الته يې د کوشنی هوسۍ په هکله داکټرانو سره خبرې وکړې او د هغوی يې و غوښتل چې هوسۍ ته دوا ورکړي.

داکټرانو و ويل:

هغه دلته راوله چې معاينه يې کړو.

بې له معاينې څارويو ته دوا نه ورکوو.

ګل خان هر څه کوښښ وکړ، خو داکټرانو د هغه خبره و نه منه.

ګل خان بېرته ځنګله ته ستون شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بنکلې هوسۍ

...................................

خبره یې د هوسۍ سره شریکه او هغې هم ومنه او سبا حیوانی کلینیک ته لاړل.



(c) ketabton.com: The Digital Library



داکټر هغه معاینه کړه.

بیا یې ګل خان ته و ویل:

د هغې په سر کې ساچمه بنده ده.

ښه به دا وي چې هغه دلته عملیات کړو.

ګل خان و پوښتل:

څو ورځې به دلته پاتې شي؟

داکټر و ویل:

دوې اونۍ به هغه دلته پاتې شي.

ګل خان و ویل:

خواږه به هغې ته څوک ورکړي؟

ډاکټرو وی:

دلته هرڅه بې پیسو(مفته) دي.

مونږ ورته ښه واښه او دوایی ورکوو.

ته سوچ مه کوه!

هغه به ډېر ژر ښه شي.

ګل خان و ویل:

زه کولای شم دلته پاتې شم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



داکټر و ویل:
نه!
تا ته اړتیا نه شته.
مونږ خپل کوښښ کوو، ته دوې اونۍ وروسته راشه.
هغه ومنه او کور ته لاړ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## ښکلې هوسۍ

..................................

هوسۍ څو ورځې په حیواني کلینک کې پاتې شوه.

الته به یې تازه واښه خوړل.

داکټرانو به ورته دوا هم په وخت سره ورکوه.

هغه په لس ورځو کې بېرته ښه شوه.

دوې اونۍ پوره شوې.

ګل خان حیواني کلینیک ته لاړ.

الته یې د هوسۍ پوښتنه وکړه.

داکټرانو هغه د هوسۍ کټ ته یووړ.

د ګل خان په لیدو سره هوسۍ له ځایه پاڅېده.

ګل خان ډېر خوشحاله شو او د داکټرانو نه یې مننه وکړه.

بیا یې هوسې ته و ویل:

څنګه یې؟

هغې و ویل:

ښه یم.

بیا یې داکټرانو ته و ویل:

کولای شوو کورته لاړ شوو.

هغوی و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

بنکلي هوسۍ

.................................

هو!

مګر په هوسۍ به پام کوې.

هغه و ویل:

سمه ده!

بیا هوسۍ و ویل:

زه دلته د کوټي ( د خره بچي) سره بلده شوم.

هغه هم غواړي چې زما سره لاړ شي.

ګل خان و ویل:

هغه چېرته دی؟

هوسۍ و ویل:

هغه د کلینیک په انګړ کې دی.

هغوی د کلینیک انګړ ته لاړل.

کوټی هم بنکلی و.

هغه د داکټر تر درملنې لاندې و.

هغوی کوټي ته نږدې شوو.

کوټی ډېر خوشحاله شو.

ګل خان داکټر ته و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولای شوو کوټې هم له ځانه سره بوځو؟

داکټر و ویل:

اوس نه!

هغه تر درملنې لاندې دی.

بیا کوم بل وخت.

ګل خان او هوسۍ ډېر خپه شوو.

هوسۍ کوټې ته نږدې شوه.

هغه ته یې و ویل:

ته مه خپه کېږه.

مونږ به تا پسې راشو.

هغه و ویل:

سمه ده!
کومه ستونزه نه شته.
بیا یې له هغه نه خدای پاماني واخیسته او داکټر ته یې و ویل:

د هغه ښه درملنه وکړه.

مونږ به ځو ورځې وروسته د هغه پسې راشو.

داکټر و ویل:

سمه ده!

(c) ketabton.com: The Digital Library

بنکلې هوسۍ

..................................



(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکلې هوسۍ

....................................

هغوی بیا د داکټرانو سره خدای پاماني وکړه او ورو، ورو د حیواني کلینیک نه و وتل او کور خواته، روان شوو.

په لاره کې ګل خان هغې ته ډېر نصیحتونه وکړل.

له هغې یې و غوښتل تر څو یوائۍ اخوا دېخوا لاړه نه شي.

هغې و منه او ګل خان ته یې ډاډ ورکړ.

هغوی کور ته ورسېدل.

پیشو غږ کړ.

میاو میاو( هغوی راغلل)

ټولو له هرې خوا منډې کړې.

ټول خوشحاله شوو.

بیا ټولو و ویل:

ښه شو چې هوسۍ ښه شوه.

نور به هغه یوائې نه پرېږدو چې چېرته لاړه شي.

هوسۍ هم و ویل:

سمه ده!

ټول به یوه ځای ګرځو او د کور نه به ډېر لرې نه ګرځو.

ګل خان و ویل:

سمه ده!

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکلې هوسۍ

.................................



(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکلې هوسۍ

.................................



(c) ketabton.com: The Digital Library

بنکلي هوسۍ

..................................



(c) ketabton.com: The Digital Library

بنکلې هوسۍ

..................................



(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکلې هوسۍ

...................................



(c) ketabton.com: The Digital Library

بنکلي هوسۍ

...................................



(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکلې هوسۍ

..................................



(c) ketabton.com: The Digital Library

ښنکلې هوسۍ

...................................



(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکلي هوسۍ

.................................



(c) ketabton.com: The Digital Library

بنکلي هوسۍ

.................................



(c) ketabton.com: The Digital Library

بنکلې هوسۍ

.................................



(c) ketabton.com: The Digital Library

بنکلې هوسۍ

.................................



(c) ketabton.com: The Digital Library

بنکلې هوسۍ

...................................



(c) ketabton.com: The Digital Library

بنکلي هوسۍ

...................................



(c) ketabton.com: The Digital Library

بنـکلې هوسۍ

..................................



(c) ketabton.com: The Digital Library

بنکلې هوسۍ

.................................



(c) ketabton.com: The Digital Library

بنګلي هوسۍ

.................................



(c) ketabton.com: The Digital Library

بنکلې هوسۍ

..................................

څه موده تېره شوه.

ژوي به ټول یوه ځای ګرځېدل.

هوا سړه شوه.

واوره په ورېدو شوه.

ګل خان له ورایه د ژمي له پاره چمتوالی درلود.

هغه د ژویو د پاره واښه درلودل.

یواځې د اوبو ستونزه وه.

اوبه هم یخ و وهې او د واورو لاندې شوې.

ګل خان به سهار وختي د خپلې بنځې سره له کوره واته او په پلاستیکي لوښو کې به یې او به راوړې.

هغه به لمړي یخک ما تاوه او بیا به یې لوښي ډکول.

وروسته به دواړو کور ته وړل.

الته به یې په لوی دیګې کې اچوې، بیا به هر یوه په خوند سره څښي.

د ژمي ورځې تېرېدې.

اوا(هوا) مخ په ښه کېدو شوه.

پسرلی راغی.

هغوی ټول خوشحاله شوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکلې هوسۍ

..................................




سختې ورځې تېرې شوې.

هرې خوا واښه او ګلان را شنه شوو.

مر غۍ، بیا راغلې.

چرګانو یې هم پر هګیو راغلې.

هګۍ یې تر چرګې کېنوې.

ګل خان هم خوشحاله شو.

خپل ټوپک یې پاک کړل.

بیا یې په ښکار پیل کړ.

**پای**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د چاپ شویو کتابونو لېست**

۱. معماری افغانستان
۲. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش شفاخانه ها)
۳. راهنمود طلایي (برای اساتید انستیتوت های تخنیکي و ساختمانی افغانستان)
٤. رسم تخنیک (گامی به سوی نړۍ انجینری) جلد اول
٥. رسم تخنیک (گامی به سوی نړۍ انجینری) جلد دوم
٦. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش اداری)
۷. معماری اصیل شهر کابل (مرادخانی)
۸. معماری شهر کابل (بی بی مهرو)
۹. افغانستان در قرن تکنالوژی
۱۰. زونبندی اقلیم و زلزله افغانستان
۱۱. صدقه جاریه / دنیای انجینری
۱۲. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت جلد اول (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)
۱۳. داستان حقیقی با مقیاس معماری
۱٤. فرار از کشور- با تصاویر مستند
۱٥. نقش دانشمندان مسلمان در فن معماری و مهندسی
۱٦. پخسه در افغانستان
۱۷. بنیا نگذاری اولین مساجد توسط افغانها در آسترلیا
۱۸. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت جلد دوم (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library

بنکلي هوسۍ

.................................

۱۹. منار جام - الهامی برای قطب منار
۲۰. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد سوم (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)
۲۱. جام یا کلیان ( کلان)
۲۲. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد اول
۲۳. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد دوم
۲٤. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد سوم
۲۵. چېر ته چې قانون نه شته (ګډوډي د افغانستان په معمارۍ کې)
۲٦. مډرنه جوما تونه ,, پخوا او نن ،،
۲۷. هله جور کو (نی پخسه – مقاوم زلزله)
۲۸. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش مساجد)
۲۹. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش مکاتب)
۳۰. هنر و صنعت چوب در مرادخانی
۳۱. هنر و پیشه حکاکې - زرگری در مرادخانی
۳۲. هیچ (چهل داستان واقعی)
۳۳. معماری اصیل شهر کابل
(تشریح مورخ ۱۷ ماه میزان سال ۱۴۰۱ پوهنتون پولی تخنیک کابل)
۳٤. ۴۰- چهل
۳۵. مجنون او ګلچېن (پښتو ناول)
۳٦. در جستجو (ناول به زبان دری)
۳۷. تفاوت ها تفاوت می آورد (کتاب تصویری)
۳۸. مجموعه از دروس دینی مولوي صاحب خیرالله مخدوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



(جلد اول)
۳۹. برف ها آب میشود
۴۰. رسم و تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد سوم
۴۱. آرزو و امید (ناول به زبان دری)
۴۲. بوډا ښکاري (پښتو ناول)
۴۳. نامنوني ژوي (پښتو ناول)
۴۴. د اسلامي معمارۍ پیل
۴۵. حیوانات شوخ ( ناول به زبان دری)
۴۶. مجموعه از دروس دینی مولوي صاحب خیرالله مخدوم (جلد دوم)
۴۷. د شپیلۍ مینه (مه ینه) په کچه کږۍ کې (پښتو ناول)
۴۸. حشمت خان د کلا معماري
۴۹. د افغان الک او آذري جلۍ مینه (پښتو ناول)
۵۰. د وچو ښونه او پارکونو معماري
۵۱. د یوې ښونکې مینان په یوه ټولګي کې (پښتو ناول)
۵۲. د ژرنده ګرې ماما مینه (پښتو ناول)
۵۳. په اسلامي نظام کې ودانیز پرمختګ
۵۴. شپنه ادې (پښتو ناول)
۵۵. بې زده کړې پوی (پښتو ناول)
۵۶. د مینې تاو (پښتو ناول)
۵۷. (BIM) په خپله ژبه - په نړۍ کې تر ټولو نوې او ګړندۍ کړنلاره د معمارانو او اینجینیرانو(انجینرانو) له پاره
۵۸. مجموعه از دروس دینی مولوي صاحب خیرالله مخدوم (جلد سوم)
۵۹. سیدو او عیدو - د کوشنیوالي خواږه ملګري (پښتو ناول)

(c) ketabton.com: The Digital Library



٦٠. د یوې میاشتې ناوې (پښتو ناول)
٦١. دښاخکو هار (د یوه سړی لنډې کیسې)
٦٢. د کابل ښار اصلي معماري (مراد خانی)
٦٣. کوشنۍ سوداګره (پښتو ناول)
٦٤. د کابل ښار معماري - بي بي مهرو
٦٥. سرغندوی (ناب، مشهور) پوډري
٦٦. ډارونکی سېلاب ( پښتو ناول)
٦٧. خواریکښ قاضي (پښتو ناول)
٦٨. د پخوانیو جوماتونو توپیر د نن سره
٦٩. د مور وژونکی (قاتل)، (پښتو ناول)
٧٠. د مور مېره (پښتو ناول)
٧١. مجموعه از دروس دینی مولوي صاحب خیرالله مخدوم (جلد چهارم)
٧٢. لېونی ملا (پښتو ناول)
٧٣. ځوان شهید (پښتو ناول)
٧٤. توده برستن (پښتو ناول)
٧٥. نورک اکا (پښتو ناول)
٧٦. غریبک (پښتو ناول)
٧٧. د ژوند خوږې او ترخې (پښتو ناول)
٧٨. الماء [دیارلس کلنه فلسطینۍ انجلۍ تر نړېدلي ودانۍ (پښتو ناول)]
٧٩. مجموعه از دروس دینی مولوي صاحب خیرالله مخدوم (جلد پنجم)
٨٠. ادبي لښتې / چوب ادبی
٨١. د ښاروالۍ کاریګر (پښتو ناول)
٨٢. د خاورو لاندې ښار (د عینک مسو کان ته څېرمه)
٨٣. شهری زیر خاک (نزدیک معدن مس عینک)

(c) ketabton.com: The Digital Library



..................................

۸۴. ساختمان های کانټینری
۸۵. کانټینري ودانۍ
۸۶. Architecture of Buddist temple in Kabul city
۸۷. ښکلې هوسۍ (پښتو کیسه)

(c) ketabton.com: The Digital Library

بنـکلـې هوسـئ

..................................

**د کار لاندې کتابونو لېست**

١. هنر خطاطی و میناتوری در مراد خانی
٢. هنر کلالی در مرادخانی
٣. لیونی لېوه
٤. سپین کارغه
٥. سور تنور
٦. خړه بیزو
٧. بندي مرغه
٨. بې وخته باران
٩. د ژوند پای

(c) ketabton.com: The Digital Library

بنکلي هوسۍ
.................................

**د امکان او وخت په صورت کې**

۱. پخسه در افغانستان (به زبان انگلیسی)
۲. تاریخ معماری افغانستان
۳. حویلی های آسمان خراش
٤. ارتباط گذ شته، حال و آینده در معماری
٥. استعداد، سرعت و اقتصاد در معماری افغانستان
٦. شیطان چراغ
۷. خاطره ها

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**